# ګـــــراني

مشتاق مجروح يوسفزے

ګراني لکه څنګه چې ئې د نوم نه ښکاره ده يو ګران شے دے او د بنده ژوند ګرانوي بلکې د ښې توښې ئې وباسي خو نۀ پوهېږم چې زمونږ په وطن کښې دا ولې دومره ارزانه ده او ډېره په اسانه راځي. په اسانه مې ورته ځکه ووې چې هفته کښې دوه ځله راځي او صرف د واکمنو په يو اعلان راځي. هسې زمونږ په وطن کښې خو مرګ هم د څۀ وخت نه ډېر ارزان شــوے دے او لګيــا دے ورځ تـــر ورځـــه ارزانېږي او کۀ دې ګرانۍ خپل بې لګامه رفتار دغسې جاري وساتلو نو غالب ګمان دے چې نور به هم ارزان شي بلکې وېړيا به شي.

ګراني څنې خلق مُشکل ته هم وائي لکه ګراني ورته پېښه شوه. يا دا سوال ډېر ګران دے وغېره. ګرانۍ هم بنده ته مشکل پېښوي، د ګرانۍ سره د عوامو ژوند ګران شي بلکې دومره په لړزان شي چې په اودو هم کله کله فرياد کوي. ګراني به مخکښې هم کله کله لکه زمونږ د وطن د بجلۍ راتله خو دا اوس ئې سم کار شروع کړے دے. په هفته کښې يو ځل نيم خامخا د څيزونو نرخونه په بره خېژي او داسې په بره خېژي لکه د زورورو پاره چې غريب بنده ته خېژي.

د اقتصادياتو ماهران د ګرانۍ معني داسې کوي چې د يو څيز د اخستو دپاره چې ستا د جېب نه د نور کله په نسبت زياتې پېسې ووځي نو دې ته ګراني وائي. دا خو مې هسې د هغوي کړې معني تاسو ته وړاندې کړه ګني داسې به لا هم څوک وي چې هغوي به ګراني نۀ پېژني يا به د ګرانۍ په ژرنده دل شوے نۀ وي. دې وطن کښې خو هر وګړے د ګرانۍ لړم چيچلے دے او لګيا دې چيچي ئې.

د تېلو نرخونه په دې يو څو مياشتو کښې څو ځله وختل او څوک داسې استاذ په دې وطن کښې چا تر اوسه معلوم نۀ کړو چې دا نرخونه راکوز کړي. يو اځې تېل نۀ دي د انسان د عام ضرورت ټول شيان لګيا دي د غريب اولس د ولقې يعنې قوت خريد نه وځي. د دې به څۀ کېږي او کله به کېږي هر سړے دې سودا په مخه اخستے دے. کۀ تاسو خيال کړے وي نو په سړک او بازار کښې هر بنده داسې په يو غرق او ډوب سوچ کښې روان وي چې د کوټې هومره ګاډے نۀ ويني او بې د پرېشر هارن نه په بل هارن راوينبېږي هم نه، د ګاډو مالکانو ته ئې لويه کشاله پېښه کړې ده. د دې بله هيڅ وجه نشته. دا ټول دې ملا ماتونکې ګرانۍ ګنګس کړي دي.

بل د ظلم دپاسه ظلم دا دے چې په مونږ خلقو کښې هم انصاف نشته. يو سړي سره زوړ ستاک موجود وي، د شپې په ټې وي يا ربله‌ يو د هغه څيز د نرخ واوري چې زيات شوے دے نو سبا هغه په زوړ نرخ

راغلې شيز په نوي نرخ خرڅول شروع کړي. دغسې چې څنګه د شپې د تېلو د ګرانۍ اعلان وشي نو د بسونو او ګاډو خاوندان په خپل سر بې د حکومت د اجازته کرايې وخېژوي او حکومت خو هډو دې ته وزګار نۀ دے چې د دوي خلاف څۀ قدم وچت کړي. کۀ چاته ووائې چې ولې؟ نو سمه جګړه وي. په سي این جي د چلېدونکو ګاډو مالکان هم وائي تېل ګران شوي دي. هلکه تېل ګران شوي دي ګېس خو نۀ دے ګران شوے؟ خو زمونږ مجبوره او بې وسه عوام په دې هم پوه نۀ دي چې دا خبره ورته وکړي. څکه خو پرې د ګرانۍ د عذاب سره سره دا جورې هم اړمې دي او وينې ترې څښي.



زمونږ په وطن کښې تشې خبرې کېږي او بيانونه ورکولے شي. د اپوزيشن خلق وائي چې د دې ګرانۍ هيڅ جواز نۀ جوړېږي، دا ظلم دے زياتے دے او د حکومت واکمن وائي چې په عالمي منډۍ کښې نرخونه ختلي دي، عالمي ګراني ده، مونږ مجبوره يُو. دې هفته کښې بيا د تېلو نرخ ختلے دے حالانکې په عالمي منډۍ کښې د يو بېرل تېلو قيمت مخکښې 147.55 ډالره ؤ او دا وخت 127.20 ډالره دے باوجود د دې هم زمونږ په ملک کښې تېل ګران کړے شو.

تاسو کۀ چرته د خپلو کړمو نه وزګار شوي يئ او پام مو کړے وي نو د حکومت واکمن چې کله يو شيز ګرانوي نو د خپلې غريب پرورۍ د ثبوت ورکولو د پاره ورسره دا هم ووائي چې په غريب به ئې هيڅ اثر نۀ پرېوځي، عموماً په بجټ تقرير کښې دا خبره ډېره کولے شي. حالانکې داسې کوم شيز به وي چې د هغې د اثر نه به غريب بچ وي څکه چې د غريب مثال خو د يتيم وي او کانړے همېشه د يتيم سر له راځي. دا ځل چې تېل ګران شو نو په دوېمه ورځ په اخبارونو کښې راغلل چې د تېلو د ګرانېدو سره دوه سوه امروزه ژوند کښې استعمالېدونکي شيان هم ګران شو. اوس د دغې دوو سوو شيانو اثر به څنګه په غريب نۀ پرېوځي؟

زمونږ په وطن کښې څنې خلق داسې هم شته چې هغوي دا ګراني برداشت کولے شي څکه نو هغوي د دې ګرانۍ خلاف خلۀ نۀ سپړي. ولې اکثريت په کښې د هغو خلقو دے چې د دې ګرانۍ توان نۀ لري خو د دې خبرې وس هم نۀ لري چې خلۀ راوسپړي. کۀ چرته څوک پکښې کوشش کوي نو هم دومره چې لکه د ګُنډو رنډو تشې ښېرې کوي يا ځان سره ګُونېږي. لکه هغه ورځ مې يو تن وليدو چې د ځان سره په خوړ اواز ګونېدو وئيل ئې:

زۀ د ګرانۍ تورې بلا وخوړم
چاته فرياد وکړم چې چا وخوړم
تمامه ورځ يمه قطار کښې ولاړ
زۀ د اوړو راوړو سودا وخوړم
غوړو نه بيله د مار پښه جوړه ده
د چينۍ غم پکښې جدا وخوړم
اوس ئې بجلي هم راته ګرانه کړله
خلق تيارۀ خوري زۀ رڼا وخوړم